

# ناقانونه کډوالي او د انساني قاچاق اغېزې

سید پښتون پښتون

د کډوالو قاچاق چې د انساني قاچاق یوه برخه جوړوي د ناقانونه کډوالۍ منفي پایله ده. هرکال د انساني قاچاق له امله زرګونه هغه کډوال خپل ژوند له لاسه ورکوي چې په قاچاقي سفرونو سره غواړي ځانونه خپل مقصد ته ورسوي.

له دغه نړیوال سازمان شوي جنایته چې د یو شمېر نړیوالو مافیایي کړیو له لورې په سیستماتیک ډول سره پرمخ وړل کېږي ورسره مبارزه هم آسانه کار نه دی ځکه اروپایي او یو شمېر نورو هېوادونو لپاره یې ستره اندېښنه رامنځ ته کړې. له همدې امله ټولو اروپایي هېوادونو لاسونه سره یو کړي  ترڅو د قاچاق عوامل او د قاچاق مجرمین پیدا او ور سره مبارزې ته لاره هواره کړي .

انساني قاچاق د مخدره توکو او اصلحې له قاچاق وروسته د عاید له اړخه په نړۍ کې درېیم ځای لري او هرکال له دغه نړیوال جنایت څخه قاچاقچیان ۵۰ ملیارده ډالره ګټه لاسته راوړي .

په انساني قاچاق کې د انسان د بدن له غړو څخه استفاده کېږي ، له انسانانو د فحشا په موخه ګټه پورته کېږي او دې ته ورته نور غیر انساني اعمال د دغو نړیوالو جنایتکارانو لخوا ترسره کېږي د دې ترڅنګ په غیر قانوني ډول مقصد ته د یو انسان رسول دا د انساني قاچاق بل ډول دی چې هغه ته د کډوالو قاچاق وایي .

د کډوالو په قاچاق کې قاچاقچیان د هغو انسانانو له مجبوریته ګټه پورته کوي چې هېواد پرېښودو ته اړ شوي وي او غواړي چې پرته له قانوني اسنادو ځانونه نورو هېوادونو ته ورسوي .

افغانان تر نورو هېوادونو ډېر د دغه ستر جنایت قرباني شوي او لاهم قرباني کېږي د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې ۲۵۰ زره افغانانو د قاچاقچیانو په مرسته ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسول ، ډېرې یې خپل مقصد ته و نه رسېدل ، و وژل شول ، ښېرې یې چپه او په سمندرونو کې ډوب شول ، زنداني شول ، په ځنګلونو کې مړه شول او بالاخره چې ځانونه یې اروپایي هېوادونو ته ورسول هلته هم په ډېرو سختو شرایطو کې اوس ژوند تېروي او یو شمېر یې له خپل تګ څخه پښېمانه دي او په خپله خوښه بېرته هېواد ته راستنېږي .

یوشمېر کورنۍ خپل جایدادونه ، دوکانونه او کورنه خرڅ کړل او قاچاقچیانو ته یې خپلې پیسې ورکړې ترڅو د دوې ځامن اروپایي هېوادونه ته ورسوي او د حالاتو د لاخرابېدو په صورت کې د کورنۍ لپاره ترې د یوې تکیې په توګه کار واخیستل شي. خو پرته لدې چې دوې خپل مقصد ته ورسوي لاهم د یو شمېر کډوالو مړي او ژوندي ورک شوي او کورنۍ یې لاهم د خپلو زامنو په تمه دي افغان ځوانان اروپا ته پر لار او دغو خطرناکو سفرونو کې له ګڼو مالي او ځاني زیانونو سره مخامخ شول په هغو بېړیو کې چې د قاچاقچیانو له خوا دوې ته برابرېږي هره لحظه د ډوبیدو خطر وي او ډېرې کښتۍ په سمندرونو کې ډوبې شوي .

انساني قاچاق (Human Trafficking) په نړیواله کچه هغه پراخېدونکې ناوړه پدیده ګڼل شوې، چې د مریتوب یا غلامۍ نوې بڼه هم ورته ویل کېږي. د نړیوالو حقوقو پر بنسټ د انسانانو قاچاق له بشري حقونو سرغړونه او سخت جرم ګڼل شوي دي. د ملګرو ملتونو سازمان د «پالرمو کنوانسیون» چې د سازمان شویو جرمونو پر وړاندې د مبارزې یو ګډ سند دی، په لومړي نمبر پروتوکول کې انساني قاچاق تعریف شوي دي. دا کنوانسیون چې درې پروتوکولونه لري، په ۲۰۰۰ کال کې لاسلیک او لومړي پروتوکول یې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې پلي شو.

د دې پروتوکول د لومړي څپرکي په دریېمه ماده کې راغلي:«د زور، ګواښ، تښتونې، چل، د پیسو اخیستنې او د نورو نا مشروع لارو په واسطه د خلکو نا قانونه استخدام، لېږدونه، ټرانسپورټ، پناه ورکونه او یا ګټه اخیستنه؛ د انساني قاچاق په نوم یادېږي.»

د افغانستان د قاچاق او سړي تښتونې پر وړاندې د مبارزې قانون هم په دریېمه ماده کې د انسان قاچاق په اړه ورته تعریف وړاندې کوي:« د انسان قاچاق عبارت دی د شخص له انتقال، حمل او نقل (ټرانزیت)، استخدام، ساتنه یا په واک کې اخیستنه چې د پیسو، چل او دوکې او یا د مجني علیه له نورو مجبوریتونو څخه د ناسمې ګټې اخیستنې له لارې د هغه د ترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي.

د انساني قاچاق عناصر: پورتني تعریف ته په پام سره، ویلي شو چې انساني قاچاق درې جوړوونکي عنصرونه لري:

عمل :(The Act) له دې څخه موخه د انسان د قاچاق ډول دی، یعنې د خلکو په قاچاق کې کومه مروجه لاره کارول شوې. استخدام، لېږدول، ټرانسپورټ کول، پناه ورکول او که ناوړه ګټه اخیستنه.؟

بڼه :( The Means) دا په ډاګه کوي چې انسان په څه ډول قاچاق ته مجبور کړای شوی دی. د زور، جبر، تښتونې، دوکې، د پیسو د ورکړې او یا کومې بلې نا مشروع لارې څخه؟

موخه :( The Purpose) د دې عنصر پر بنسټ، قاچاق د کومې موخې لپاره ترسره کېږي. د خلکو د استثمار چې تن پلورنه، جنسي استفاده، جبري کار، د بدن د غړو پلورنه او نور کارونه په کې شامل دي.

د انساني قاچاق انګېزې او عوامل مختلف دي، چې هر یو یې د دې پدیدې په پراختیا کې خپل اغېز لري.

د انساني قاچاق په اړه چې کومې څېړنې شوې دي، په ډاګه کوي چې د قاچاق اصلي عاملین په خپله قاچاق کېدونکي یا زیانمن خلک دي. که څه هم ډېر ځله خپله قاچاق کېدونکي انسانان خپله په دې اړه پرېکړه کوي چې ځان قاچاقبرانو ته په لاس ورکړي، خو بیا هم نه شو کولای چې دغې پرېکړې ته د ستونزې د اصلي عامل په توګه وګورو، ځکه چې دا کسان زیاتره د قوانینو او نورو چارو په اړه عامه پوهاوي نه لري او د بېلابېلو مجبوریتونو له امله دې ته اړ کېږي چې د قاچاقبرانو د دروغو ښکار شي.

دا کسان د ښه ژوند په هیله په ټولنه کې له موجوده سختو شرایطو لکه بې وزلۍ، تبعیض، تاوتریخوالي، بې کاري او نورو اقتصادي-ټولنیزو ناورینونو څخه د خلاصون لپاره خپل هېواد او کورونه پرېږدي بهر ته ځي. د ټولنې دغه زیانمن قشر د راتلونکې لپاره د هیله مندۍ په ډېره تیټه کچه کې ژوند کوي او نه پوهېږي چې راتلونکي برخلیک به یې څه وي؟ له همدې امله، د ښه ژوند لپاره ځانونه د مرګ خولې ته ورکوي او د قاچاقبرانو په واسطه پر غیر قانوني لارو بهر ته بیول کېږي. په قاچاق کېدونکو کسانو کې زیاتره هغه ډله خلک دي چې د یو مقدار پیسو په بدل کې د قاچاقبرانو له خوا لېږدول کېږي. دوي ته په لارو کې د ګواښونو او ستونزو په اړه نه ویل کېږي. خو کله چې په لارو ګودرو وخوځول شي، له داسې خنډونو سره مخ کېږي چې سړي د مرګ او ژوند ترمنځ شېبې شماري. دا کسان ډېري تر رسېدو مخکې په ځنګلونو، سمندرونو، غرونو، دښتو او بیدیاوو خپل ژوند له لاسه ورکوي.

بله ډله هغه کسان دي چې د پراخو مافیایي شبکو له خوا د جبري کار یا استثمار لپاره قاچاق کېږي. دا ډله کسان ډېره برخه یې ماشومان جوړوي، کېداي شي ان په قانوني لارو ولېږدول شي، خو کله چې په کار ګومارل کېږي، حقوق یې نه ورکول کېږي او د غلام په څېر ترې کار اخیستل کېږي.

د قاچاق کېدونکو انسانانو بله ډله ښځې دي چې د جنسي استفادې لپاره د قاچاقبرانو له خوا قاچاق کېږي. دا مورد په ډېري اسیایي هېوادونو کې موندلی شو. قاچاقبران له بېلابېلو هېوادونو نجونې قاچاق کوي او په نایټ کلپونو، رستورانتونو او فاحشه خانو کې پرې پیسې ګټي. ولې انسانان مجبورېږي چې ځان د قاچاقبرانو په لاس ورکړي؟ دا هغه پوښتنه ده چې کره ځېړنې او قانع کوونکو ځوابونو ته اړتیا لري. دا پوښتنه د انساني قاچاق په اړه په «جوړښتي فکتور» پورې اړه لري. د دې فکتور په مطالعې سره کولای شو، هغه عوامل را وسپړو چې په ملي او نړیواله کچه انساني قاچاق او د قاچاق نورو ډولونو ته لار هواروي.

انساني قاچاق اوس د سازمان شویو جرمونو په توګه په نړۍ کې د قاچاق پراخې شبکې رامنځته کړي دي. دسازمان شویو جرایمو او شبکو په بدلېدو سره، دغې پدیدې په بېلابېلو برخو او په ځانګړې توګه په ټولنیزه برخه کې ګڼ زیانونه زېږولي دي. په خپله افراد یا قاچاق کېدونکي کسان د دې زیانونو په لومړي سر کې راځي، خو که په ټولنیزه کچه یې زیانونه و ارزول شي، تر دې خطرناک دي. دا چې د دې زیانونو څرنګوالی او اړخونه کوم دي، لاندې یې روښانه کوو.

فردي زیانونه: انساني قاچاق په لومړي قدم کې خپله پر قاچاق شویو کسانو مستقیم اغېز کوي. له دې کسانو سره د غلامانو په څېر چلند کېږي او له هر ډول بشري حقونو محروم وي. هغه ماشومان او ښځې چې د قاچاق په واسطه پر جبري او نا مشروع کارونو ګومارل شوي دي، تر سخت رواني او فزیکي فشار لاندې وي. دا ډله کسان د کارمشرانو له خوا تر جدي او دایمي څار لاندې وي، د لږو پیسو په بدل کې پرې درانه او له حده زیات کارونه ترسره کېږي. اروایي څېړنې ښیي، هغه ځوانان چې په ماشومتوب کې د انساني قاچاق ښکار شوي دي، رواني او جسمي روغتیا یې شدیده زیانمنه او له شخصیتي پلوه له ګڼو ستونزو سره مخ وي. په دې اساس، په داسې یو

ناسم محیط کې د انسان سالمه وده ناشوني ده، هغه کسان چې په دې ډول محیط کې سترېږي، له نورو یې سره چلند او سلوک کاملاً متفاوت وي، یعنې یو انسان چې له ماشومتوب څنګه په ټولنه کې په طبیعي ډول وده کوي، له محیط سره او کورنۍ سره ځان اشنا کوي؛ دلته داسې نه وي. د کار نړیوال سازمان اټکل کوي چې د قاچاق شویو کسانو له ډلې له ۶۸٪ کسانو په جبري کارونو، له ۲۲٪ په جنسي او له پاتې ۱۰ سلنه نورو په بېلابېلو برخو کې کار اخیستل کېږي.

ټولنیز زیانونه: دا سمه نه ده چې ووایو د انسانانو قاچاق یوازې قاچاق شوي کسان زیانمنوي. د دې قاچاق زیان د وګړو نه ټولنې ته ډېر دی. څومره چې قاچاق ډېرېږي، هغومره په ټولنه کې فساد، نا امني او ستونزې ډېرېږي. هغه بدلمنې ښځې چې د قاچاقبرانو له خوا قاچاق کېږي او بیا د «فاحشه خانو» په نوم مشخصو ځایونو ته وړل کېږي، په ټولنه کې د اخلاقي فساد د ترویج او ډېروالي سبب کېږي. همدارنګه د نا مشروع اړیکو په پایله کې زېږېدلي ماشومان د ټولنې د راتلونکې لپاره لوی ګواښونه زېږوي.

روغتیایي زیانونه :د قاچاق قربانیان تر ډېره په یو ناوړه روغتیایي وضعیت کې قرار لري، چې د ډېرو ناروغیو د خپراوي سبب کېږي. دغه قربانیان تر ډېره د اچ.آی.وي په وژونکي ویروس اخته وي چې د نورو روغتیا او سلامتیا په اړه یې ګنې اندېښنې راپارولې دي.

اقتصادي او امنیتي زیانونه: د انسانانو د قاچاق له درکه ترلاسه کېدونکې پیسې د جرمي اقتصاد په پیاوړتیا کې مرسته کوي. لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، دغې پدیدې په وروستیو درېوو لسیزو کې د پام وړ پراختیا موندلې ده. قاچاقبران هر کال له دې درکه په میلیاردونو ډالر ښکته پورته کوي او په نړیوال مارکېټ کې یې یو تور اقتصاد رامنځته کړی دی. د جرمي اقتصاد همدغه پیسې ان په ځینو هېوادونو کې د نا امنیو پر رامنځته کولو هم لګول کېږي. قاچاقبران ورانکاره ډلې تمویلوي څو د نا امنۍ په رامنځته کولو سره، د دوی فعالیت ته زمینه برابره شي.

د پورتني معلوماتو څخه دې پایلې ته رسو ،چې افغانستان د کډوالۍ له اړخه ډېر اغېزمن دی او لاهم میلیونونه او سېدونکي یې د انساني قاچاچیانو له لورې قاچاق شوي او ځینې په بهر کې د کډوالۍ سختې شپې او ورځې تېروي نو ځکه افغان دولت باید انساني قاچاق او د کډوالۍ مسلې ته د خپلو کارونو په لومړیتوب کې ځای ورکړي او همدارنګه په نړیواله کچه باید د خپلو نړیوالو استراتېژیکو ملګرو سره د دغې انساني ناورین د حل لپاره لنډ مهاله او اوږدمهاله استراتېژیک پروګرامونه جوړ کړي .

د لنډ مهال لپاره باید ځوانانو ته د ننه په هېواد کې داسې شرایط جوړ کړي ترڅو هیواد پرېښودو ته اړ نه شي او همدارنګه له ګاونډیو هیوادونو څخه چې هلته افغان کډوال له ستونزو سره مخامخ دي او تل د افغان دولت پر ضد کارول کېږي په عزت سره د دوې د راستنولو لارې چارې برابرې کړي .

له ګاونډیو هیوادونو څخه د شاوخوا ۵،۵ میلیونه افغان کډوالو راستنول په لنډه موده کې ناشوني ده دولت باید خپلو امکاناتو او د ظرفیت جذب ته په پام سره په تدریجي ډول او د یو منظم زماني پلان پر اساس د ملګرو ملتونو او د کډوالۍ د نړیوال سازمان په مرسته د دوی د راستنولو استراتیژي جوړه کړي او له راستنېدونکو متخصصینو ، لوړو زده کړو لرونکو او پانګوالو څخه د هېواد د بیار غونې او ثبات په برخه کې ګټه پورته کړي

.

دولت باید د له خپلو نړیوالو همکارانو سره په ګډه د ننه په هېواد کې دوی ته د ژوند لاژمې اسانتیاوې برابرې کړي او د لوړو زده کړو لرونکو ځوانانو څخه د د ظرفیتونو د تشې د ډکولو په برخه کې کار واخلي .

د دې لپاره چې افغانستان او نړیوالې ټولنې د افغانانو له دغه ستر انساني ناورین څخه د تل لپاره ځان خلاص کړي نو د اوږد مهال لپاره افغان دولت باید له خپلو نړیوالو همکارانو سره په ګډه د کډوالۍ د لاملونو د له منځه وړلو په برخه کې کار وکړي .

امنیتي ستونزې ، بې روزګاري ، بیوزلي هغه څه دي چې ډېرى افغان ځوانان دې ته اړ کېږي چې مهاجرت ته مخه کړي نو له همدې باید د دغو لاملونو د له منځه وړلو په برخه کې کار وشي .

ناقانونه کډوالي دې په قانوني کډوالۍ بدله شي هغه هېوادونو چې کاري ځواک ته اړتیا لري باید د یوې منظمې تګلارې له لارې هلته په قانوني ډول کاري ځواک واستول شي .

د ترکیې په څېر افغان دولت هم کولای شي چې د کډوالۍ د دغه نړیوال بحران له فرصت څخه ګټه پورته کړي او نړیوالو ته دا په ډاګه کړي چې افغانستان د نړیوالو د جګړې قرباني شوي او له یوې خوا دوې نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لري او له بل لورې افغان دولت سره باید د سولې او ثبات په برخه کې کار وکړي ترڅو افغانان کډوالۍ ته اړ نه شي .

اخځلیکونه


- حیدري،زینت. دکډوالۍ موکې، فرصتونه او ننګونې. کابل:عودت مجله.

سمون، نظیم، د انساني قاچاق لاملونه او اغېزې. کابل: عودت مجله.

- www.bbc.com -۳ پښتو بي بي سي

۴- سید پښتون، پښتون.(۱۳۹۹کال). ډله ایيزه کډوالي.